# د پیټسبورګ عامه ښوونځي – د زده‌کوونکو څخه د ملاتړ او د ښوونځي د مثبت کلتور لارښود
## د ۲۰۲۵م څخه تر ۲۰۲۶م پورې تعلیمي کال

په پیټسبورګ عامه ښوونځیو کې زموږ ژمنتیا دا ده چې د ټولني له خلکو سره په ګډه داسې یو ښوونیز چاپېریال رامنځته کړو چې هم د زده‌کوونکو او د ښوونځي د کارکوونکو لپاره خوندي وي او هم په متقابل درناوی، احترام او هرکلي باندې مبنأ وي. د ۲۰۲۴ – ۲۰۲۵ د زده‌کوونکو د چلند په مقرره کې به تاسو د ګډو ژمنو، د زده‌کوونکو د حقونو، د زده‌کوونکو لپاره د ملاتړونو او خدماتو په اړه معلومات ومومئ چې د زده‌کړې په لاره کې شته خنډونه له منځه وړي، او همدارنګه پدې مقرره کې د ښوونځي د چلند اصول او مقررات روښانه شوي دي.

د ژبې مرسته

که مو د انګلیسي څخه پرته په بله کومه ژبه کې دې لارښود یا نورو اسنادو ته اړتیا درلوده، مهرباني وکړئ د دویمې ژبې د زده‌کړې (ESL) څانګې سره په 412-529-3620 شمیرې اړیکه ونیسئ. د کومې کورنۍ غړي په انګلیسي باندې نه پوهېږي، نو کولای شي 412-529-6463 ته زنګ ووهي او د خپلو اړتیاوو له مخې په خپله خوښه ژبه کې ددې اسنادو غوښتنه وکړي، او که اړتیا وي د ژباړون مرسته هم ترلاسه کولی شي.

Español

Para obtener copias en idiomas distintos del inglés, por favor, póngase en contacto con el Departamento de Inglés como Segundo Idioma (ESL) al 412-529-3620. Si una familia que no habla Inglés tiene preguntas o le gustaría un intérprete, pueden llamar a 412-529-6463 y solicitar los documentos en el idioma que prefieran.

العربي ة

412 529-3620. بلع ةيناث ةغلك ةيزيلجنإلا ةغللا ةرادإب لاصتالا ىجري ،ةيزيلجنإلا ريغ ىرخأ تاغلب خسن ىلع لوصحلل
.اهنولضفي يتلا ةغللاب قئاثو بلطو 412-529-6463 ب لاصتالا مهنكمي ،مجرتم ىلإ ةجاح يف وأ ةلئسأ ةيزيلجنإلا ةغللاب ةملكتم ريغلا رسألا ىدل ناك اذ إ

नेपाली

अङ् ेजी बाहेक अ भाषाह मा ितिलिपह का लािग, कृ पया अङ् ेजीको पमा दो ो भाषा (ESL) िवभागलाई 412-529-3620 मा स क गनुहोस्। यिद अङ् ेजी नबो ने प रवारसँग ह छन् वा दोभाषे चाहनु छ भने, उहाँह ले 412-529-6463 मा फोन गन स ु छ र आफू लाई मनपन भाषामा कागजातह अनुरोध गन स ु छ।"

پ تو

"د ان ل پرته ه نورو ژو د اپ انو ل اره، مه ا وک ئ ان ل د دو ژ ه تو ه(ESL) ان ه ه 412-529-3620 اړکه ون . که د ان ل پرته د کو ژ و ون کور پو ت ولري ا ژاړون غواړي، دوی کو 412-529-6463 ته زن وو او د خ خو ه ژه د اسنادو غو نه وک ي.

Kiswahili

Kwa nakala za lugha zingine ambazo si Kiingereza, tafadhali wasiliana na Idara ya Kiingereza kama Lugha ya Pili (ESL) namba ni 412-529-3620. Ikiwa familia isiyozungumza Kiingereza ina maswali au ingependa huduma za mkalimani, wanaweza kupiga simu kwa 412-529-6463 na kuomba hati hizo katika lugha wanayopendelea.

O'zbekcha

Ingliz tilidan boshqa tillardagi nusxalarni olish uchun 412-529-3620 raqami orqali Ingliz tilini ikkinchi til sifatida o‘qish (ESL) bo‘limiga murojaat qiling. Agar ingliz lida so‘zlashmaydigan oilalarda savollar bo‘lsa yoki ularga tarjimon kerak bo‘lsa, 412-529-6463 raqamiga telefon qilib, hujjatlarni o‘zlari afzal ko‘rgan lda berilishini so‘rashi mumkin.

لړلیک

د مهمو اصطلاحاتو لنډ لاربود ........................................................................................................ مخ.2
د تبعیض پر ضد اعلامیې ................................................................................................................. مخ.3
د لفظي ځوروني څخه اجتناب ............................................................................................................. مخ.5
د خوندیتوب د راپور ورکولو پروګرام (Safe2Say)......................................................................................مخ.7
د زده کوونکو حقونه........................................................................................................................ مخ.7
د ښوونځي د ټولنې د غړو مسؤلیتونه او ژمنتیاوې....................................................................................... مخ.9
د زده‌کوونکو او د ښوونځي د کلتور او فضا لپاره ګډ مسؤلیت .........................................................................مخ.9
د ښوونځي د فضا ،کلتور، او کړنو بدلونونه ............................................................................................... مخ.10
رغنیزې کړنلارې (Restorative Practices) ................................................................................................ مخ.10
د مثبت چلند د ملاتړ او مداخلې تګلارې ................................................................................................... مخ.10
ټولنیزه او عاطفي زده کړه ..................................................................................................................... مخ.12
د رواني او رفتاري روغتیا ملاتړونه .......................................................................................................... مخ.12
د هغه زده‌کوونکو ملاتړونه چې د جنسیت په پېژندنه او ځان څرګندونه کې ځانګړې اړتیاوې .............................. مخ.13
د ښوونځي د ټولنیزو کارکوونکو دنده ........................................................................................................ مخ.14
د ښوونځي د مشاور دنده ......................................................................................................................... مخ.14
د ښوونځي د امنیتي کارکوونکو دنده ........................................................................................................ مخ.14
د حاضرۍ تګلاره .................................................................................................................................مخ.15
د لباس (کالیو) اصول ...........................................................................................................................مخ.18
د بس اصول ........................................................................................................................................مخ.19
نورې سرچینې ..................................................................................................................................... مخ.19
د زده‌کوونکو د چلند اصول، تعریفونه او د سرغړونو کچې ........................................................................... مخ.19
د نرسرۍ څخه تر د ۵ ټولګې زده کوونکو او د ۶ څخه تر ۱۲ ټولګې د زده کوونکو د سرغړونو د کچې لاربښودونه ............ مخ.21
له ټولګې څخه د ایستلو کړنلارې .............................................................................................................. مخ.21
له ښوونځي څخه د ایستلو کړنلارې ............................................................................................................ مخ.21
د بدیلو زدهکړو ځای پر ځای کول ............................................................................................................. مخ.26
د معیوبو زده‌کوونکو د نظم او ډیسپلین تګلاره ........................................................................................... مخ.22
د زده‌کوونکو د روغتیا او خوندیتوب کړنلارې .............................................................................................. مخ.27

| ټول هغه اصطلاحات چې باید وپېژندل شي – لنډ لاربود | |
|---|---|
| PPS: د پېټسبورګ عامه ښوونځي<br>RP: رغنیزې کړنلارې (هغه لارې چارې چې د شخړو د هوارې او د ښه زده کړیز چاپېریال د رامنځته کولو لپاره کارېږي)<br>PBIS: د مثبت چلند د ملاتړ او اصلاح تګلاره (د زده‌کوونکو د ښه چلند د هڅونې او ستونزو د کمولو لپاره ځانګړې لاره)<br>SAIC: د ښوونځي د حاضرۍ د ښه والي غونډه (کله چې زده‌کوونکی ډېر غیرحاضر وي، ښوونځی او کورنۍ ګډه ناسته کوي)<br>SAIP: د ښوونځي د حاضرۍ د ښه والي پلان (یو لیکلی پلان چې د زده‌کوونکي د دوامداره حاضرۍ لپاره جوړېږي)<br>CYF: د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو دفتر (هغه اداره چې د ماشومانو او کورنیو ملاتړ کوي)<br>AEDY: د بې تهذیبه زده کوونکو لپاره بدیله زده‌کړه (د هغو زده‌کوونکو لپاره ځانګړي ښوونیز پروګرامونه چې د عادي ټولګې نظم ګډوډوي) | IDEA: د معلولیت لرونکو زده‌کوونکو د زده‌کړې قانون (هغه قانون چې د ځانګړو اړتیاوو لرونکو زده‌کوونکو د حقونو ملاتړ کوي)<br>NOREP: د سپارښتل شوې زده‌کړې د ځای پر ځای کولو خبرتیا – هغه رسمي لیک چې ښوونځی یې کورنۍ ته ورکوي ترڅو د زده‌کوونکي د ځانګړي پروګرام یا ځانګړې زده‌کړې د ځای په اړه معلومات ورکړي او د هغوی موافقه تر لاسه کړي.<br>PWN: له مخکې لیکلې خبرتیا (د ښوونځي رسمي لیک چې کورنۍ ته د زده‌کوونکي د زده‌کړې د بدلون په اړه خبر ورکوي)<br>FBA: د چلند د دندې ارزونه (یو ډول ارزونه چې د زده‌کوونکي د ستونزمن چلند اصلي لامل معلوموي)<br>DOH: د روغتیا وزارت<br>PDE: د پنسلوانیا د ښوونې او روزنې اداره<br>IEP: د زده‌کوونکي ځانګړی زده‌کړیز پروګرام (یو لیکلی پلان چې د ځانګړو اړتیاوو لرونکي زده‌کوونکي لپاره جوړېږي)<br>ATOD: د الکول، سګریټ (تنباکو) او نورو نشه یي موادو د مخنیوي پروګرام<br>هممهاله زده کړه :هغه زده‌کړه چې ښوونکي او زده‌کوونکي په یو وخت کې له یو بل سره خبرې او ګډون کوي |

| | |
|---|---|
| | غیر هممهاله زده کړه: هغه زدهکړه چې زدهکوونکي مواد په خپل وخت لولي او کارونه په خپل رفتار ترسره کوي، پرته له دې چې ټول په یو وخت کې سره ګډون وکړي |

**د هر ډول تبعیض پر ضد خبرتیا**

پیټسبورګ عامه ښوونځي ټول پروګرامونه او فعالیتونه د توکم، رنګ، عمر، عقیده، مذهب، جنس، جنسي هویت یا څرګندونه، جنسي تمایل، نژاد، اصلیت، واده، حمل یا معلولیت په اساس پرته له کوم توپیر وړاندې کوي. د ښوونځي له خوا تمویل شوي ټول پروګرامونه او فعالیتونه باید د ایالتي او فدرالي قوانینو سره سم په مساوي ډول ټولو زدهکوونکو ته برابر وړاندې شي. د تعلیمي حوزې د تبعیض ضد تګلارو په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو، د سرغړونې د راپور ورکولو یا د شکایت د ثبت لپاره، مهرباني وکړئ د ولسوالی Title IX د تطبیق مسؤل یا ټاکل شوي نماینده سره اړیکه ونیسئ.

د Title IX د تطبیق مسؤل:
ډاکټر کیمبرلي کروز
پیټسبورګ عامه ښوونځي
341 S. Bellefield Avenue | Pittsburgh, PA 15213
بریښنالیک: TitleIXComplianceOfficer@pghschools.org

پیټسبورګ عامه ښوونځي زدهکوونکي د ځورونې او تبعیض څخه ساتنې ته ژمن دی. لاندې هغه معلومات دي چې زدهکوونکي او کورنۍ یې باید د Title IX او خپلو حقونو په اړه پرې پوه شي:

A. Title IX یو فدرالي قانون دی چې ټول زدهکوونکي د جنسیت پر بنسټ له هر ډول تبعیض څخه ساتي؛ پدې کې جنسي ځورونه هم شامله ده.
   a. د هغو کړنو بېلګې چې کېدای شي د Title IX یا د ولسوالی د اصولو خلاف وي:
      i. د بل چا سره ناغوښتل شوی یا نامناسب فزیکي تماس.
      ii. د بل چا د بدن یا ظاهري بڼې په اړه جنسي تبصرې، ټوکې، یا حرکتونه.
      iii. د جنسي اوازو خپرول یا شریکول.
      iv. د ځانګړي جنسیت له امله د فعالیتونو یا فرصتونو څخه د یو زدهکوونکي محرومول.
B. **Title IX: د زدهکوونکو او کورنیو حقونه او مسؤلیتونه**
   a. **د زده کوونکو حقونه:**
      i. په یو خوندي او درناوي لرونکي ښوونیز چاپېریال کې زدهکړه کول.
      ii. پرته له دې چې درسره توپیریز چلند وشي، له پامه وغورځول شئ یا مجازات شئ، د خپلو اندېښنو په اړه راپور ورکول.
      iii. د اړتیا پر مهال ملاتړ ترلاسه کول، لکه د مهالویش بدلون، د ښوونکي/مدیر څارنه، یا مشورتي خدمتونه.
   b. **د کورنیو مسؤلیتونه:**
      i. له خپلو ماشومانو سره د سالمو حدودو، د درناوي چلند، او رضایت په اړه خبرې کول.
      ii. خپلو ماشومانو ته هڅونه کول چې که کوم څه غلط یا د اندېښنې وړ ورته ښکاري، سمدستي یې په اړه راپور ورکړي.
C. **د Title IX د راپور ورکولو د بهیر په اړه پوهېدل**

# کله چې تاسو راپور ورکوئ څه پېښېږي:
# د Title IX لارښود



**D. له چا سره باید تماس ونیسئ:**

a. که کوم څه نارامه کړي يئ، د نا امنی احساس کوئ او يا هم درته بې احترامي شوې وي، لومړی د خپل ښوونځي مدير يا مرستيال مدير ته خبر ورکړئ.

**E. لدې وروسته څه پیښیږي:**

a. د Title IX دفتر به له تاسو سره د ښوونځي د بریښنالیک له لارې تماس ونیسي ترڅو د پیښې په اړه درسره خبرې وکړي ترڅو پدې پوه شئ چې د پیښې په اړه کوم ګامونه اخیستلی شئ او کوم اختیارونه لرئ؛ هغوی به تاسو ته د موجودو مرستو په اړه هم معلومات درکړي، په تاسې باند هېڅ ډول فشار نشته، یوازې ملاتړ او مرسته درسره کوي.

**b. هغه ممکنه مرستې او ترتیبات چې برابرېدای شي:**

i. ستاسو د ټولګي مهالویش یا د غرمې د لنډې وقفې وخت بدلول.

ii. د ښوونځي له مشاور یا ټولنيز کارکوونکي څخه د مرستې او مشورې غوښتنه کول.

iii. د ښوونځي د کارکوونکو لنډې او منظمې لیدنې/پوښتنې تر څو ډاډ ترلاسه شي چې تاسو ځان خوندي او آرام احساسوئ.

iv. نور ځانګړي ملاتړونه چې ستاسو د اړتیاوو او حالاتو مطابق برابرېږي.

**د مخنیوي زدهکړه او روزنه**

**د کورنیو د ملاتړ او پوهاوي لپاره، د ولسوالۍ په رسمي ویبپاڼه کې یوه عمومي ویډیو شتون لري چې د ولسوالۍ د مخنیوي زدهکړو لړۍ تشریح کوي او د ولسوالۍ پالیسي، Title IX او د ایالت لارښونو سره مطابقت لري. کورنۍ هڅول کیږي چې دغه ویډیو وګوري او دا مهمې خبرې د کور په چاپېریال کې هم له خپلو بچیو سره ترسره کړي. کورنیو ته سپارښتنه کیږي چې دغه ویډیو وګوري او دې ته په ورته مهمو خبرو آترو باندې په خپلو کورونو کې هم مباحثه وکړي.**

**د Title VI خبرتیا**

د تعلیمي حوزې تګلاره دا ده چې د ۱۹۶۴م د مدني حقونو د قانون د Title VI له ټولو برخو سره بشپړ مطابقت وساتي. د Title VI له مخې هېڅوک باید د خپل نژاد، رنګ یا ملي اصل (قومیت) له امله له کوم پروګرام، فعالیت، یا د ولسوالۍ له کوم خدمت څخه محروم نشي، پدې پروګرامونو کې د ګډون څخه ونه ایستل شي، د ګټې اخیستنې حق ترې وانخیستل شي، یا په بله هره بڼه له توپیري چلند سره مخ نه شي.

**د 504مې مادې/ADA خبرتیا**

پټسبورګ عامه ښوونځي (Pittsburgh Public Schools) دلته خبر ورکوي چې د تعلیمي حوزې تګلاره دا ده چې د ۱۹۷۳م د بیا رغونې د قانون (Rehabilitation Act) د 504مې مادې له ټولو غوښتنو سره بشپړ مطابقت وساتي. . دغه ماده هغو کسانو ته د توپیري چلند پر وړاندې قانوني ساتنه برابروي چې د معلولیت سره مخ وي. زدهکوونکي په ښوونیز چاپېریال کې د 504مې مادې د مدني حقونو تر خوندیتوب لاندې راځي. د قانون او اړوندو مقرراتو له مخې، په هغو ټولو عامه او خصوصي ښوونځیو کې چې په مستقیمه یا هم غیر مستقیمه توګه د فدرال لخوا تمویلیږي، د معلولیت پر بنسټ هر ډول توپیري چلند پکې منع دی. هغه زدهکوونکي چې د معلولیت لرونکي په توګه ارزول شوي وي، د 504مې مادې پر بنسټ د ځانګړو آسانتیاوو (Accommodation) مستحق کېدای شي. د 504مې مادې موخه دا ده چې معلولیت لرونکو زدهکوونکو ته د عمومي زدهکړې په چاپېریال کې برابر لاسرسی او عادلانه شرایط ډاډمن کړي؛ دا ټولې آسانتیاوې د "504 Accommodation Plan" له لارې عملي کېږي، څو د هغوی لپاره د زدهکړې زمینه مساعده کړي. د 504مې مادې د آسانتیاوو لپاره د مستحق کېدو په موخه، زدهکوونکی باید لومړی و ارزول شي او د همدغه مادې د پېژندنې له معیارونو سره برابر ثابت شي. هر هغه زدهکوونکی چې د ارزونې پر بنسټ د رواني یا فزیکي معلولیت لرونکی وپېژندل شي، او دا معلولیت يې د ژوند له یوه یا څو مهمو فعالیتونو سره د پام وړ خنډ رامنځته کړي، د 504مې مادې د Accommodation Plan حق لري.

**د هر ډول ځورونې (Bullying) پر وړاندې بندیز**

پیټسبورګ عامه ښوونځي دې ته ژمن دي چې ټولو زدهکوونکو او کارکوونکو ته یو خوندي، مثبت او درناوی لرونکی چاپېریال برابر کړي، چې له فیزیکي او لفظي ځورونې څخه پاک وي. فیزیکي او لفظي ځورونه د وېرې او وهم فضا رامنځته کوي، د زدهکړې لپاره اړین خوندي چاپېریال ګډوډوي او ښایي د لا جدي تاوتریخوالي سبب شي. له همدې امله، ولسوالۍ هڅه کوي چې داسې تعلیمي چاپېریال وساتي چې پکې په هېڅ ډول فیزیکي یا هم لفظي ځورونه نه وي.

زورول داسې یو قصدي عمل دی ـ که بریښنایي وي، لیکلی وي، شفاهي وي او که فزیکي ـ چې د یو یا څو نورو زدهکوونکو پر وړاندې ترسره کېږي، چې پکې انلاین زورول (سایبر بلیینګ) هم شامل دي، او دا هغه وخت زورول بلل کېږي چې په ښوونیز چاپېریال کې ترسره شي، جدي، دوامدار یا تکراري وي او موخه یې یا اغېز یې دا وي: د وېرې او دښمنۍ داسې فضا رامنځته کول چې د زدهکوونکي زدهکړې ته په لویه کچه زیان ورسوي؛ یا زدهکوونکي ته فزیکي، رواني یا عاطفي زیان رسول؛ یا زدهکوونکی د فزیکي، رواني یا عاطفي زیان له معقولې وېرې سره مخ کول؛ یا زدهکوونکی د خپلو شخصي توکو د زیان یا ضایع کېدو له وېرې سره مخ کول. په لفظي ځورونه کې ممکن هغه کړنې هم شاملې وي چې د ښوونځي له چاپېریاله بهر ترسره کېږي، که چېرې دغه کړنې قصدي وي، بریښنایي، شفاهي یا فزیکي بڼه ولري، د بل زدهکوونکي پر وړاندې ترسره شي، جدي، دوامدار یا تکراري وي او دا پایلې ولري: (۱) د زدهکوونکي زدهکړې ته په لویه کچه خنډ رامنځته کول؛ (۲) د ګواښ او وېرې فضا جوړول؛ یا (۳) د ښوونځي منظم بهیر ګډوډول

تعليمي حوزه په کلکه د انلاین زوورولو مخه نیسي، که څه هم ممکن دا په بشپړ ډول یا جزوي ډول د ښوونځي له چاپېریاله بهر ترسره شي، خو که د پورته یادو شویو شرایطو سره سمون ولري، دا به د ښوونځي په چاپېریال یا د تعلیمي حوزې د زدهکوونکو په زدهکړه اغېز ولري. بربېښنایي کړنې چې ښايي په ټولنیزو شبکو، بلاګونو، فیسبوک، ایکس (پخوانی ټویټر)، انسټاګرام، سنیپچټ، ټیکټاک، یوټیوب او ورته نورو انټرنیټي پاڼو کې ترسره شي، د تعلیمي حوزې د ټګلارۍ ښکاره سرغړونه ګڼل کېږي.

**د هر ډول لفظي او فیزکي ځوروني په اړه راپور او څېړنه**

**راپور ورکول/شکایت کول**

هغه زدهکوونکي او نور کسان چې د لفظي، سایبري (انلاین)، فیزکي یا کوم بل ډول ځوروني سره مخ شوي وي، یا یې په اړه مالومات لري، په ټینګار سره هڅول کېږي چې د ښوونځي له لارې راپور ورکړي. په دې برخه کې یو ښوونکی، سلاکار، ټولنیز کارکوونکی یا د ښوونځي اداره د شکایت اورېدلو او د حل لپاره مسوول دي. دوی به ډاډ ترلاسه کړي چې شکایت د ولسوالۍ د «لفظي او فیزکي ځوروني پر وړاندې د بندیز» له تګلارې او مقرراتو سره سم په سمه توګه څېړل کېږي.

هغه کسان چې غواړي په لیکلي بڼه شکایت وړاندې کړي، کولای شي د شکایت ځانګړې فورمه د ښوونځي له ویبپاڼې څخه ډاونلوډ او ډکه کړي: https://go.boarddocs.com/pa/pghboe/Board.nsf/files/C7LLD8560262/$file/102_Report%20Form_ARhttps://go.boarddocs.com/pa/pghboe/Board.nsf/files/C7LLD8560262/$file/102_Report Form_AR-1 of 3_final (1).pdf1%20of%203_final%20(1).pdf.

**څېړنه**

کله چې د فیزکي یا هم لفظي ځوروني په اړه کوم شکایت ثبت شي، د ښوونځي مدیر یا د هغه استازی (لکه مرستیال مدیر، سلاکار یا ټولنیز کارکوونکی) به یې وڅېړي. په ځانګړو قضیو کې، که موضوع ډېره جدي وي یا د ښوونځي یو مسوول کس پکې په خپله تورن وي، څېړنه به د تعلیمي حوزې د قانوني ځانګې یا د زدهکوونکو د ساتنې ځانګړي دفتر له خوا ترسره شي. په هغو پېښو کې چې یو زده کوونکی بل یو په فیزکي یا هم لفظي ډول ځوروي، د دواړو اړخونو له والدینو سره به اړیکه نیول کېږي. د څېړنې پروسه کې معمولاً د ښکېلو زدهکوونکو، ښوونکو او نورو کسانو سره مرکې کېږي چې پدې اړه مالومات لري، او همدارنګه اړوند اسناد او شواهد هم څېړل کېږي. د څېړنې پروسه کې معمولاً د ښکېلو زدهکوونکو، ښوونکو او نورو کسانو سره مرکې کېږي چې پدې اړه مالومات لري، او همدارنګه اړوند اسناد او شواهد هم څېړل کېږي.

کله چې څېړنه بشپړه شي، پایلې یې ټولو ښکېلو خواوو سره شریکېږي. . د نهایي راپور یوه کاپي هم د ښوونځي او د څار مسوول دفتر سره خوندي کېږي.

که څېړنه وښيي چې په رښتیا هم داسې یوه پېښه شوې ده، نو ښوونځی به د مخنیوي او سمون لپاره سمدستي ګامونه واخلي ترڅو دغه کړنې بندې شي. د مداخلې او سمون اقدام کېدای شي هر هغه ګامونه وي چې ښوونځی یا د څار مسوول یې د راتلونکو ورته پېښو د مخنیوي لپاره اغېزمن ګڼي. پدې ګامونو کې کېدای شي د ښکېلو زدهکوونکو جلا کول، ورته د سلا مشورو ورکول، یا د زدهکوونکو د چلند د اصولو او مقرراتو پر بنسټ د نظم او ډیسپلین د اقداماتو عملي کول شامل وي.

د زدهکوونکو د لفظي او فیزکي ځوروني د څار د مسؤل سره اړیکې:


د زدهکوونکو د زوروني او ځوروني د څار مسؤل
د زدهکوونکو د ملاتړ د خدمتونو دفتر
341 S. Bellefield Avenue, Room 440
PITTSBURGH, PA 15213
ایمیل: Studentservices@pghschools.org
تلیفون:(412) 529-3918
فکس:(412) 622-3954

د «Safe2Say Something» پروګرام

د خوندي او ملاتړ کوونکو ښوونځیو د رامنځته کولو لپاره یو مهم ګام «Safe2Say Something» پروګرام دی. دا یو داسي د راپور ورکولو سیستم دی چي عارض بغیر لدې چي خپل هویت په ډاګه کړي، هر ډول راپور او شکایت ثبتولی شي چي د پنسلوانیا د لوی څارنوال دفتر له خوا پر مخ وړل کیږي. د پروګرام موخه دا ده چي زدهکوونکي او ښوونځي کارکوونکي زده کړي چي څنګه د خطر نښي او اشاري – په ځانګړي توګه د ټولنیزو شبکو په منځپانګه کي – وپیژني. دا نښي ښودلی شي چي یو څوک د ځان یا نورو لپاره زیان رسوونکی ګواښ دی. کله چي داسي کومه نښه ووینئ، باید یا د باور وړ لوی ته خبر ورکړئ، او یا د Safe2Say د بېنوم راپور ورکولو سیستم وکاروئ.Safe2Say د هر وخت (۲۴ ساعته/۷ ورځې) د بیړني مرکز تلیفون (1-844-SAF2SAY)، موبایل اپلیکیشن او ځانګړي ویبپاڼه لري چي د هغې له لاري بغیر لدې چي خپل هویت ورته په ډاګه کړئ، راپور ورکولای شئ. د تعلیمي حوزي زدهکوونکي او کارکوونکي د دې پروګرام په اړه روزل کیږي، ترڅو وپوهیږي چي څنګه له دې لاري خپلي اندېښني شریکي او راپور کړي. د نورو معلوماتو یا د انلاین راپور د ثبت لپاره، لاندې ویبپاڼي ته ورشئ: [www.safe2saypa.org](http://www.safe2saypa.org) د زده کوونکو حقونه

**د وړیا عامه زدهکړي حق**

ټول هغه ماشومان او ځوانان چي د ۶ کلنۍ تر ۲۱ کلنۍ پوري عمر لري، د دې حق لري چي په عامه ښوونځیو کي وړیا او بشپړه زدهکړه ترلاسه کړي. هر زدهکوونکی چي د ۲۱ کلنۍ نه کم عمر لري، کولای شي ښوونځي ته داخل شي، حتی که د فراغت معادل سند (GED) یې هم اخیستی وي. هغه زدهکوونکي چي لا یې زدهکړي بشپړي کړي نه وي، یوازي د دې لپاره له ښوونځي نه شي ایستل کېدای چي عمر یې ۱۸ کلونو ته رسېدلی دی، تر هغه چي د زدهکوونکي مسؤلیتونه په سمه توګه ترسره کوي. همدارنګه هېڅ زدهکوونکی د دې لپاره له ښوونځي یا له ښوونیزو فعالیتونو څخه نه شي محرومېدلای چي واده یې کړی وي، ګډ ژوند کوي، امیندواره وي یا د ماشوم پالنه کوي.

د مهاجرو زدهکوونکو حقونه:

د زدهکوونکي د تابعیت یا د کډوالۍ حالت هېڅکله د ښوونځي له خوا نه شي غوښتل کېدای، او د تابعیت یا د کډوالۍ د اټکل شوي بنې پر اساس هېڅ زدهکوونکی له زدهکړي نه شي محرومېدلای. ښوونځي ته اجازه نه ورکول کېږي چي د زدهکوونکي یا د هغه د مور او پلار/پالوونکي د کډوالۍ په اړه پوښتني وکړي.

د بیان او د څرګندوني د آزادۍ حق

زدهکوونکي د اساسي قانون له مخي د خپلو نظرونو د څرګندولو بشپړ حق لري، خو دا تر هغه ځایه چي د دوی څرګندوني د زدهکړي په بهیر کي جدي ګډوډي رامنځته نه کړي، د ښوونځي یا ټولني د خوندیتوب لپاره مستقیم ګواښ نه وي، د ناقانونه کارونو هڅونه ونه کړي، او یا د بل چا په حقونو تېری ونه کړي. زدهکوونکي کولای شي د ښوونځي د بورډ غړو، د تعلیمي حوزي له اداري او د ښوونځي له مشرتابه سره د هغو موضوعاتو په اړه خبري وکړي چي د دوی پر زدهکړه اغېز لري.

زدهکوونکي کولای شي د خپرونو لکه پاڼو، خبرتیاوو او نورو د اړیکو وسایلو څخه ګټه واخلي، خو د ښوونځي د ودانیو او اسانتیاوو کارونه باید د مسؤل چارواکي له خوا تصویب شي او د تهمت او فحشا د قوانینو درناوی پکي وشي. د ښوونځي مدیر حق لري چي له زدهکوونکو وغواړي، د هر ډول خپرېدونکو، ځړول کېدونکو یا وېشل کېدونکو موادو یوه کاپي له مخکي د تصویب لپاره وړاندې کړي.

زدهکوونکي او د زدهکوونکو ټولني د ځانګړو خبرپاڼو د تختو (Bulletin Boards) د کارولو حق لري، خو د ښوونځي مدیر کولای شي د ځینو تختو کارول محدود کړي. مدیر همدارنګه حق لري چي وغواړي هر ډول خبرتیاوي او لیکلي مطالب د رسمي نېټي سره وړاندې شي او د یوې معقولي مودې وروسته لرې کړل شي، څو ټولو زدهکوونکو ته د تختو د کارولو مساوي فرصت برابر وي.

زدهکوونکي حق لري چي په د ښوونځي په رسمي خپرونو لکه مجلي او آخبار کي خپل نظر څرګند کړي. زدهکوونکي د نورو رسنیو د مدیرانو په څېر ازاد دي چي خبرونه خپاره کړي او یا خپل دریځ څرګند کړي. خو د ښوونځي چارواکي به د هغو خپرونو څارنه کوي چي د ښوونځي له وسایلو څخه چاپېږي، بېناموسه او تهمتي مواد به لرې کوي، او هغه مطالب به سموي چي د ښوونځي د فعالیتونو جدي ګډوډي او خنډ رامنځته کړي. د ښوونځي چارواکي نشي کولای یوازي د دې لپاره د خپرونو مخه ونیسي چي د ښوونځي یا د اداري پر وړاندي انتقادي خبري پکي شوي وي. د ښوونځي د خپرونو لپاره د چاپېدونکو موادو د منلو کړنلاره باید څرګنده کړي چي مواد چا ته سپارل کېږي او په څو ورځو کي یې په اړه پرېکړه کېږي. که ټاکل شوي موده تېره شي او پرېکړه ونه شي، نو هغه مطالب د خپرولو لپاره د منل شویو په توګه ګڼل کېږي. هغه زدهکوونکي چي د خپروني د ټیم غړي نه وي، هغوی هم د خپروني د پاڼو کارولو حق لري. د دې لپاره باید لیکلي لارښودونه جوړ شي او ټولو زدهکوونکو ته ورکړل شي، څو هغوی وپوهېږي چي د خپروني لپاره د موادو سپارلو اصول څه دي. زدهکوونکي همدارنګه د دې حق لري چي عریضي خپري کړي، نظرپوښتني وکړي، معلوماتي مېزونه (بحثونه) جوړ کړي، ټولني/کلبونه جوړ کړي او ویناوال یا ښوونیز فعالیتونه تنظیم کړي.

زدهکوونکو ته د خپل هېواد او د ملي بیرغ د درناوي سپارښتنه کېږي؛ خو که څوک د شخصي باور یا مذهبي عقیدې له مخي نه غواړي د ملي سرود لوستلو یا د بیرغ په درناوي کي برخه واخلي، هغوی کولای شي چي پکي برخه وانخلي، مګر دوی باید د هغو زدهکوونکو حقونو او احساساتو ته درناوی وکړي چي په دغو مراسمو کي ګډون کوي.

که یو زدهکوونکی د ښوونځي له ځانګړو کارکوونکو سره پټه او محرمي خبري وکړي، دغه خبري به د قانون له مخي په محکمي کي نه افشا کېږي. مګر که داسي محرم معلومات وي چي د زدهکوونکي یا د نورو کسانو د روغتیا، هوساینې یا خوندیتوب له پلوه ښکاره ګواښ وي، نو دا معلومات کېدای شي د زدهکوونکي له والدینو، د ښوونځي له مدیر یا له نورو اړوندو چارواکو سره شریک شي. همدارنګه که داسي شک پیدا شي چي کوم ماشوم په لفظي یا هم فیزکي ډول ځورول کېږي، نو دا ډول محرم معلومات د ایالت د قانون او د ښوونځي د تګلارې پر بنسټ د ماشوم د ساتني په راپورونو کي افشا شي. دا قانون او پالیسي دلته کتلی شئ: [د بورډ ډاکس® پرو](#) .

د بېځایه لټون او توکو د ضبط پر وړاندې د زدهکوونکو حق

په ښوونځي کې له زده‌کوونکو سره د نامعقولو یا بې‌ځایه لټونونو او ضبطونو اجازه نشته. په ښوونځي کې له زده‌کوونکو سره د نامعقولو یا بې‌ځایه لټونونو او ضبطونو اجازه نشته. هېڅ زده‌کوونکی نشي کولای په خپلو جامو، بستې، کتاب‌کڅوړه، لاسبستې یا نورو وسایلو کې وسلې، نشه يي مواد، خطرناک درمل، د نشه يي موادو کاروني وسایل، الکول او یا هر بل توکي یا مواد چې د دې تګلارې، د ځایي قوانینو یا د ښوونځي د اصولو خلاف وي، پټ وساتي. که د ښوونځي مدیر یا مسؤل ته د شک قوي دلیل موجود وي چې کوم زده‌کوونکی د داسې توکو درلودونکی دی چې د قانون یا د ښوونځي د اصولو خلاف وي، یا د ښوونځي د ټولې ټولنې روغتیا، امنیت یا هوساینې ته خطر پېښوي، نو د هغه زده‌کوونکي د ځان او وسایلو لټون کېدای شي ترسره شي.

لټون باید د زده‌کوونکي د جنسیت له مخې د همجنس د ښوونځي له کارکوونکي لخوا ترسره شي او لږ تر لږه یو بل د ښوونځي کارکوونکی باید موجود وي. هر ډول لټون یا د بدن د لټون پروسه باید د نورو زده‌کوونکو او کارکوونکو له نظره پټه ترسره شي (مګر په بیړنیو حالاتو کې). د زده‌کوونکو د جامو ایستل او د شخصي غړو یا دننني کالیو پلټنه (strip search) په هېڅ صورت اجازه نه لري. په واضح ډول سره، د کامل جامو تلاشي داسې تعریفېږي: کله چې د زده‌کوونکي د جامو یوه برخه یا ټولې جامې لرې کړل شي، د دې لپاره چې د هغه شخصي غړي او د جامو لاندې برخې وکتل شي.

د نامعقولو ځواک کاروني پر وړاندې د زده‌کوونکو حق

هر ډول فزیکي سزا (corporal punishment) په بشپړ ډول منع ده. د ښوونځي مدیران او کارکوونکي یوازې په لاندې حالاتو کې د معقول ځواک کارولو اجازه لري: د ګډوډۍ او شخړې مخنیوی لپاره، د وسلو یا نورو خطرناکو شیانو د اخیستلو لپاره، د ځان دفاع په موخه، د نورو کسانو یا ملکیت د ساتنې لپاره. د زیات ځواک کارول په کلکه منع دي. تعلیمي حوزه د هغو ټولو پالیسۍ، کړنلارو او قوانینو سره سم عمل کوي چې د معیوبو زده‌کوونکو د کنټرول او جلا کولو په اړه وضع شوي دي. دغه کړنلارې به یوازې د وروستۍ لارې په توګه کارول کېږي، هغه وخت چې یو زده‌کوونکی داسې خطرناک چلند کوي چې د ځان یا نورو ژوند ته ښکاره ګواښ جوړوي، او نورې نرمې او کمه محدودیت لرونکې لارې ګټې نه ورکوي. دا پالیسي له لاندې لینک له لارې کتلی شئ: Policy 212.1.

| د ښوونځي د ټولنې د غړو مسوولیتونه او ژمنتیاوې د مثبت فرهنګ او سالم چاپېریال د ټینګښت لپاره | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کارکوونکي | د ښوونځي مدیران | زده کوونکي | مور او پلار/سرپرست | د بورډ غړي، سرپرست او د مرکزي دفتر مدیران |
| • د هغو مداخلو (Interventions) او ملاتړونو په اړه بشپړ بلدتیا لرل چې ښوونکي یې په ټولګي او ښوونځي کې کارولی شي.<br>• د هر زده‌کوونکي د انفرادي اړتیاوو په پام کې نیولو سره، د مناسبو مداخلو او ملاتړونو پېژندنه او کارونه.<br>• له زده‌کوونکو او د هغوی له والدینو/سرپرستانو سره په درناوي، کلتوري حساسیت او ښې اړیکې ساتل.<br>• د زده‌کړې لپاره د برابر، مثبت او ټولګډون لرونکي ټولګي او ښوونځي چاپېریال ساتل. د تاوتریخوالي کمولو او بیارغونې ستراتیژیو څخه کار واخلئ کله چې<br>• د لفظي یا فزیکي شخړو د مخنیوي لپاره د اراموونکي لارې (De-escalation) او رغنیزو تګلارو (Restorative Strategies) څخه ګټه اخیستل. د زده‌کوونکو د چلند د سمون لپاره له بېلابېلو تګلارو او مداخلو کار اخیستل، څو د زده‌کړې له چاپېریاله د زده‌کوونکي لرې کول وروستی حل‌لاره وي.<br>• تعلیمي موخو ته د رسېدو لپاره د زده‌کوونکو څخه بشپړ ملاتړ کول. | • د هغو مداخلو (Interventions) او ملاتړونو په اړه بشپړ بلدتیا لرل چې ښوونکي یې په ټولګي او ښوونځي کې کارولی شي.<br>• د هر زده‌کوونکي د انفرادي اړتیاوو په پام کې نیولو سره، د مناسبو مداخلو او ملاتړونو پېژندنه او کارونه.<br>• د ښوونځي د لیکل شویو قوانینو او طرز العملونو یوه کاپي<br>• ټولو زده کونکو، کارمندانو او والدینو/سرپرستانو ته ورکول.<br>• ډاډ ترلاسه کړئ چې د هر ښوونځي ځانګړي قوانین او کړنلارې د تعلیمي حوزې د تګلارو سره سمون ولري، او دا هم باوري کړئ چې دغه قوانین او کړنلارې د زده‌کوونکو او د هغوی د مور او پلار یا سرپرستانو د خوښې او اړتیا له مخې په مناسبه ژبه او د اړیکو په داسې بڼه کې وړاندې کېږي چې هغوی ته په اسانۍ د پوهېدو او کارولو وړ وي. د ښوونځي د خوندیتوب د پلان د عملي کېدو څارنه.<br>• د ښوونځي سرچینو اغېزمنه کارونه.<br>• د زده‌کوونکو د ښوونځي څخه د ایستلو تر مخه د هغوی د قانوني حقونو (Due Process) رعایت.<br>• د زده‌کوونکو تعلیمي موخو ته په رسېدو کې بشپړ ملاتړ کول.<br>• د ښوونځي د ټولنې د ټولو غړو درناوی کول. | • په ښوونځي او ټولګیو کې پر وخت ګډون کول.<br>• د ټولې ورځې په اوږدو کې په زده‌کړه کې فعاله ونډه اخیستل.<br>• د غیابت پر مهال پاتې درسونه بشپړول.<br>• د تعلیمي موخو د ترلاسه کولو لپاره هڅه کول.<br>• د ښوونځي د مثبت فرهنګ او سالم چاپېریال په ساتلو کې مرسته کول.<br>• د ښوونځي له اصولو او کړنلارو سره تر خپلې وسې سم چلند کول.<br>• د ښوونځي د ټولو زده‌کوونکو او کارکوونکو د روغتیا او خوندیتوب ته درناوی کول.<br>• د ځان او نورو فزیکي او رواني روغتیا ته درناوی کول.<br>• د ښوونځي د شتمنیو (لکه کمپیوټر، کتابونه، تشنابونه او نور) ساتنه. | • د زده‌کوونکو د سلوک د کوډ (Code of Student Conduct) او د سرغړونو د کچې له لاربښود سره بلدتیا.<br>• د خپل ماشوم د ښوونځي له لیکلو اصولو او کړنلارو سره بلدتیا.<br>• خپلو ماشومانو ته د نورو د حقونو د درناوي او د ښوونځي د اصولو د تعقیب اړتیا څرګندول.<br>• له ښوونځي سره پرانیستې اړیکې ساتل.<br>• ښوونځي ته د خپل نوي تیلیفون شمیرو او اړیکو په اړه معلومات ورکول.<br>• ماشوم ته د دې زمینه برابرول چې خپلې تعلیمي موخې تر لاسه کړي.<br>• د ښوونځي د ټولنې د ټولو غړو درناوی کول. | • د ښوونځي د بورډ په کچه د داسې تګلارو وضع کول چې د مثبتو تعلیمي چاپېریالونو او پایلو ملاتړ وکړي او د ښوونې لپاره وخت اعظمي کړي.<br>• په تعلیمي حوزې کې د ټولو ښوونځیو لپاره د سرچینو عادلانه وېش او د مثبت چلند د ملاتړ تګلارې باوري کول. |

**د فرهنګ، فضا او کړنو بدلون**

پیټسبورګ عامه ښوونځي (PPS) د زده‌کوونکو د ودې او زده‌کړې د دوامداره ملاتړ ته ژمن دي. موږ هڅه کوو چې د ښوونې لپاره وخت زیات کړو، د عکس‌العمل او ایستلو پر بنسټ کړنو څخه مخه ونیسو او پر ځای یې مخکښ تګلارې او مداخلې پلې کړو. د زده‌کوونکو او ښوونکو وړتیاوې لا پسې پیاوړې کېږي ترڅو په ټولګیو کې داسې شرایط رامنځته شي چې د زده‌کړې او پرمختګ لپاره مثبت او هڅوونکی چاپېریال برابر کړي.

د ۲۰۲۴–۲۵ **ښوونیز ملاتړ او د مثبت ښوونځي د فرهنګ لارښود**، او همدارنګه د **K-5 او 6-12 د زده‌کوونکو د چلند کوډ او د سرغړونو د کچو لارښودونه**، زموږ د زده‌کوونکو د عدالت، مثبت ښوونیز فرهنګ او فضا، او د ښوونې وخت د زیاتولو او د زده‌کوونکو تر منځ د نابرابرو پایلو د کمولو ژمنتیا ښیي. ټول زده‌کوونکي د داسې مداخلو او ملاتړ مستحق دي چې دوی ته اجازه ورکړي په بریالیتوب سره په خپلو زده‌کړو کې برخه واخلي. له ښوونځي ایستل باید وروستی لاره وي، یوازې د خورا جدي سرغړونو په صورت کې، او هغه وخت چې نورې مناسبې لارې او ملاتړ وړاندې شوي وي. دلته یاد شوي ملاتړ او مداخلې باید په داسې ډول پلې شي چې د زده‌کوونکو د کلتوري، قومي او نژادي تنوع درناوی وکړي او ارزښت ورکړي. دغه مداخلې به په منظم ډول ارزول کېږي او د ټولنې له لوري به پرې نظر ورکول کېږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د مثبت ښوونځي د فرهنګ په رامنځته کولو کې د کلتوري پلوه تأییدوونکو تګلارو سره په ټکر کې نه دي.

سربېره پر دې، دا مخکښ تګلاره د ولسوالۍ د څو-کچې ملاتړ سیستم (MTSS) یوه برخه ده.MTSS یو چوکاټ دی چې د زده‌کوونکو د اړتیاوو پوره کولو لپاره د معلوماتو تحلیل او پربکړه نیونې له لارې د ښوونې او چلند اړتیاوې په مؤثره توګه برابروي. ښوونه او مداخله د څو کچو له لارې ترسره کېږي چې د زده‌کوونکو د اړتیا پر بنسټ شدت زیاتېږي. په دې چوکاټ کې زده‌کوونکو ته په اکاډمیکو او د ځان-تنظیم په برخو کې مداخلې وړاندې کېږي څو د هغوی عمومي بریا خوندي کړي.

د پیټسبورګ عامه ښوونځي مثبت ښوونیز فرهنګ داسې تعریفوي: یو عادلانه ښوونیز، زده‌کړیز او کاري چاپېریال چې پکې زده‌کوونکي، کورنۍ، کارکوونکي او ټولنې ځانونه هرکلي شوي، درناوی شوي، ملاتړ شوي او په ټولنیز، عاطفي، فکري، چلندي او فزیکي توګه ښکېل احساسوي. څېړنې ښیي چې د ښوونځي د فرهنګ بدلون ګران کار دی، خو د پیاوړې ژمنتیا په لرلو سره عملي کېدای شي. ښوونځي نه یوازې د زده‌کوونکو په علمي پرمختګ کې ونډه لري، بلکې دوی باید د زده‌کوونکو ټولنیزې او عاطفي وړتیاوې هم پیاوړې کړي څو د ځوانۍ په پړاو کې په خپلو بریاوو ولاړ پاتې شي او له خپلو نیمګړتیاوو څخه زده‌کړه وکړي. دا پرمختګ هغه څه دي چې موږ یې د هر زده‌کوونکي لپاره غواړو. کله چې موږ د زده‌کوونکو مثبت کارونه او ځانګړتیاوې په مینه او هڅونې سره وستایو، زده‌کوونکي به د مثبتو کړنو ارزښت په خپله وپېژني.

**رغوونکې کړنلارې (Restorative Practices)**

د **رغوونکو کړنلارو** پراخ پلي کېدل په ټولو ښوونځیو او پروګرامونو کې د مثبت او ملاتړ لرونکي ښوونځي د فرهنګ د رامنځته کولو یوه مهمه تګلاره ده. د دغو کړنلارو له لارې زده‌کوونکي له ښوونکو او نورو زده‌کوونکو سره د باور او اړیکې یوه قوي ټولنه جوړوي. زده‌کوونکي د ټولنیزو او عاطفي وړتیاوو روزنه ترلاسه کوي، پوهېږي چې د دوی کړنې پر نورو څه اغېزه لري، او هڅه کوي هر ډول زیان جبران کړي. دا یوه داسې تګلاره ده چې پر درناوي، اړیکو او د بریا پر ستراتیژیو ولاړه ده. موږ پوهېږو چې کله هر څوک د درناوي وړ وګڼل شي، ټولګې د زده‌کړې او ښوونې لپاره خوندي او سالم چاپېریال ګرځي. رغوونکې کړنلارې د دې لپاره جوړې شوي چې ټول زده‌کوونکي د خپلو کړنو اغېزې درک کړي او داسې لارې ومومي چې د ښوونځي په ټولنه کې خپل ځای بېرته ترلاسه کړي.

د رغوونکو کړنلارو په اړه نور معلومات دلته ومومئ: https://www.pghschools.org/domain/1339

**د مثبت چلند د ملاتړ او مداخلې سیستم (PBIS)**

**د مثبت چلند د ملاتړ او مداخلې سیستم** (PBIS) **یو درې-کچې چوکاټ دی چې د مستندو څېړنو پر بنسټ ولاړ دی او د زده‌کوونکو د زده‌کړې پایلو د ښه والي لپاره ټول معلومات، کړنلارې او ښوونیز سیستمونه یو ځای همغږي کوي.** دا یو پر مثبتو ځانګړنو ولاړ تګلاره ده چې د داسې ښوونځیو فضا رامنځته کوي چې هر زده‌کوونکی پکې د بریالیتوب زمینه ومومي. په ښوونځي کې د PBIS د پلي کېدو پروګرام کې د چلند د تمې ښوونه او د مثبت چلند ستاینه شامله ده، څکه زده‌کوونکي هغه مهال بریالي کېږي چې رهنمایي، سمونیز نظرونه او ټولنیز مهارتونه ور زده کړل شي. کله چې زده‌کوونکي پوه شي له دوی څخه څه تمه کېږي، نو ډېر امکان لري چې سم چلند غوره کړي. د تعلیمي حوزې د ټولو ښوونځیو مدیران، ښوونکي او کارکوونکي په ګډه د خپلو ښوونځیو لپاره د چلند مشخص معیارونه او د هغو د پلي کولو انعامونه ټاکي. دغه تمې او هڅونې د سهار غونډو، ټولګیو او ښوونیزو پروګرامونو پر مهال تکرار او پیاوړې کېږي.

لومړۍ کچه (Tier 1): د ښوونځي په کچه د چلند عمومي پروګرامونه او کړنلارې رانغاړي چې د ښوونځي پر ټولو زدهکوونکو تطبیق کېږي او د چلند د مخنیوي لومړنی پړاو ګڼل کېږي. پدې کې د ټولګي د مدیریت ستراتیژۍ، د چلند د تمو ښکاره ځرول، د مثبت چلند پرلهپسې ستاینه او ښوول شوو کړنو عملي ښوونه شامله ده. شاوخوا ۸۵ سلنه زدهکوونکي د همدې کچې تمې پوره کوي او د خپل سم چلند له امله ستایل کېږي.

دویمه کچه (Tier 2): د هغو زدهکوونکو لپاره ځانګړې شوې ده چې د خپلو چلندونو د سمون لپاره اضافي ملاتړ ته اړتیا لري. ښوونکي او کارکوونکي له دغو زدهکوونکو سره په وړو ډلو کې ځانګړې موخې ټاکي او ورته مهارتونه ور زده کوي. د رغنیزو (Restorative) کړنلارو له لارې زدهکوونکي پوهېږي چې د دوی چلند پر نورو څه اغېز لري، او هڅه کېږي چې دوی بېرته ټولګي او ښوونځي ته په ټود هرکلي سره راګډ شي. یوازې ۱۰ سلنه زدهکوونکي پدې ډله کې شامل وي.

دریمه کچه (Tier 3): د هغو زدهکوونکو لپاره ځانګړې شوې ده چې خورا پراخو او ځانګړو مداخلاتو ته اړتیا لري. که یو زدهکوونکی د لومړۍ او دویمې کچې له مداخلو ګټه وانخلي، نو ورته د ځانګړي چلند یا تعلیمي ملاتړ انفرادي پلان جوړېږي تر څو خپلو موخو ته ورسېږي.

پیټسبورګ عامه ښوونځي د دې ژمن دي چې د PBIS سیستم د کلتوري حساسیتونو او متوازنو کړنلارو په پام کې نیولو سره پلی کړي، څکه چې د منلو یا نه منلو وړ چلند په ډېره کچه د کلتوري ارزښتونو تر اغېز لاندې ټاکل کېږي. کله چې دا سیستم په اغېزمنه توګه پلي شي، ښوونځي په داسې ځایونو بدلېږي چې زدهکوونکي پکې د زدهکړې مینه پیدا کوي او ښوونکي او کارکوونکي د خپلې دندې په ترسره کولو کې د رضایت احساس کوي.




سیستمونه
د ښوونځي د کار کولو بنسټیزې کړنلارې همدا سیستمونه جوړوي. په PBIS کې دغه سیستمونه د کړنلارو د دقیق، دوامدار او سم پلي کېدو ملاتړ کوي او د معلوماتو له مؤثرې کارونې سره د زدهکوونکو د ښه پایلو د ترلاسه کولو زمینه برابروي.

معلومات
ښوونځي هره ورځ د زدهکوونکو په اړه ګڼ شمېر معلومات تولیدوي چې د دې پروګرام له لارې په اغېزمنه توګه کارول کېږي. د PBIS په چوکاټ کې ښوونځي د معلوماتو (Data) له لارې پایلې ټاکي، څارې او ارزوي، او همدارنګه کړنلارې او سیستمونه د درې واړو کچو (Tiers) پر بنسټ پلي کوي.

کړنلارې (Practices)
د زدهکوونکو د ملاتړ لپاره هغه ستراتیژۍ او کړنلارې ډېر مهم دي چې په هره کچه کې د دوی ملاتړ وکړي. په PBIS کې دا مداخلې او ستراتیژۍ د څېړنو پر بنسټ ولاړې دي، څو هغه پایلې ترلاسه شي چې ښوونځي یې هیله لري.

پایلي (Outcomes)
پایلي هغه لاستهراوړني دي چې ښوونځي یې د معلوماتو، سیستمونو او کړنلارو له لارې ترلاسه کوي. کورنۍ، زدهکوونکي او ښوونیز پرسونل ګډ هدفونه ټاکي او په ګډه یې تر لاسه کولو ته کار کوي. د PBIS له لارې ښایي پایلي د زدهکوونکو د چلند ښهوالی یا د نظم د مواردو د کمښت په بڼه څرګندې شي.

سرچینه www.pbis.org

**ټولنیزه عاطفي زده‌کړه (Social-Emotional Learning - SEL)**

لکه څنګه چې د ماشومانو لپاره د لوستلو او رياضي په څېر د مهمو علمي مهارتونو زده‌کړه اړينه ده، همداسې مهمه ده چې زده‌کوونکي د ژوند هغه نرم مهارتونه هم زده کړي چې د بريالي ژوند لپاره ورته اړتيا ده. دې مهارتونو کې شامل دي: د خپلو احساساتو او عواطفو سم مديريت، د نورو درناوی، او د مثبتو اړيکو جوړول. دې ته **ټولنيزه عاطفي زده کړه (SEL) ويل کيږي.**

زموږ اساسي سرچينه د SEL د ملاتړ لپاره په ښوونځيو کې Wayfinder ده. ټول زده‌کوونکي د خپلې ټولګي کچې اړوند بنسټيز درسونه تر لاسه کوي. دغه درسونه د لاندې ذکر شويو اضافي سرچينو له لارې پياوړي کيږي، ترڅو د مهارتونو ژورتيا او تکرار يقيني شي:

- موخه (Purpose):
  ستا پرېکړې او له نورو سره اړيکې د ارزښتونو پر ژور تړاو ولاړې دي.
- ځان پېژندنه (Self-Awareness):
  ته په بېلابېلو کچو ځان پېژني، له خپل کار کولو تر هغو ارزښتونو پورې چې تا ته ځواک او ملاتړ درکوي.
- د بدلون منل (Adaptability):
  کله چې تېروتنه کوې، بيا هڅه کولو ته چمتو يې او د نامعلومو حالاتو په مقابل کې له انعطاف او پرانيستي زړښت سره چلند کوې.
- همدردي (Empathy):
  د نورو له احساساتو او اړتياوو سره په حساسيت او پوهاوي کې شريکه‌وې او د ګډې ښېګڼې لپاره عمل کوې.
- همکاري (Collaboration):
  ته د اړيکو جوړوونکی يې، له نورو سره په ګډه کار کوې او د ټولنو تر منځ د ګډون او يووالي احساس پياوړی کوې.
- خپلواکي/د ځان ځواکمنتيا (Agency):
  د ځان پېژندنې په مرسته پوهيږې چې کله ملاتړ ته اړتيا لرې او څنګه کولای شې د ګډ هدف په لور نورو ته ملاتړ برابر کړې.

موږ په پيټسبورګ عامه ښوونځيو کې باور لرو چې SEL د هغه بنسټ په توګه عمل کوي چې علمي زده‌کړه پرې ولاړه ده. کله چې زده‌کوونکي په خپلو وړتياوو او په ټولګي کې په خپل ارزښت باور ولري، کله چې پوه شي څنګه مرسته وغواړي او مرسته وړاندې کړي، او کله چې داډ ولري چې سرچينې ورته شته، نو دوی کولای شي خپل بشپړ ظرفيت وکاروي. موږ باور لرو چې د SEL پلي کول بايد د کلتوري درناوي، کلتوري دوام، ضد نژادپالنې، د معيوبينو ضد تبعيض، د فشار او ټپونو د درملنې، او د عصري او انتقادي څېړنو پر بنسټ وي.
د زده‌کوونکو د ښه خدمت لپاره، موږ هڅه کوو چې خپله د SEL پوهه هم ژوره کړو. ښوونکي او د ښوونځي کارکوونکي د SEL د مهارتونو اړوند درسونو او بحثونو کې برخه اخلي او هڅه کوي چې ځان، خپل واک، امتيازات او هويت ښه وپېژني. موږ د ورځې په اوږدو کې هڅه کوو د SEL اړوند اړيکې او بېلګې زده‌کوونکو ته وښيو، څو هغوی پوه شي چې دا مهمه ده، خلک يې پروا لري او د ورځني ژوند برخه ده. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې موږ هڅه کوو په خپلو کړنو کې داسې بېلګې وړاندې کړو چې زده‌کوونکي د خپلو مهارتونو او وړتياوو په اړه لا زيات پوه شي.

**د رواني او چلندي روغتيا ملاتړونه**

په ښوونځيو کې د زده‌کوونکو لپاره د ذهني او چلندي روغتيا د ملاتړ پروګرامونه شته، څو ټول زده‌کوونکي ترې ګټه واخلي. ښوونکي او کارکوونکي به زده‌کوونکو ته دا ور زده کوي چې د کومي انديښنې پر مهال د ځان يا نورو لپاره د مرستې غوښتنه څومره مهمه ده. زده‌کوونکي، ښوونکي او والدين/سرپرستان هر کال د ولسوالۍ د زده‌کوونکو د ملاتړ پروګرام (Student Assistance Program) او له رواني روغتيايي بنسټونو سره د شراکتونو په اړه لنډه پېژندنه ترلاسه کوي: د دې پروګرامونو موخه څه ده او څنګه ترې مرسته ترلاسه کېدای شي. برسېره پر دې، د ښوونځي کارکوونکي د ماشومانو د چلندي ستونزو د پېژندلو نښو نښانو او د هغوی د ملاتړ د پړاوونو په اړه هم روزل کيږي.

**د بحران د حل کېدو بيړني خدمات**

که ته يا ستا ماشوم له رواني کړکېچ (بحران) سره مخ ياست او مرستې ته اړتيا لرئ، د Allegheny کاونټي د اوسېدونکي په توګه کولای شئ چې د Resolve د بيړني مرکز سره اړيکه ونيسئ يا مرکز ته په خپله ورشئ. د Resolve Crisis Services ټول خدمات د Allegheny کاونټي اوسېدونکو لپاره وړيا دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۴ ساعته بيړنی ټيليفون: 1-888-7-YOU-CAN (7968226) | بريښناليک<br>بريښناليک (غير بيړني پوښتنو او لارښوونو لپاره):<br>resolve@upmc.edu | Walk-In Crisis Center 333 N Braddock Ave.<br>PITTSBURGH, PA 15213<br>(East End of Pittsburgh) | د ځان وژنې د مخنيوي ملي لاره ( National Suicide Prevention Lifeline):<br>زنګ يا پيغام: 988<br>آنلاين خبرې: 988lifeline.org |

د بحران د حل کېدو بيړني خدمات تاسې سره څنګه مرسته کولای شي؟

- که چيرې لوی يا هم کوم کوچنی ذهني بحران لرئ.
- که چيرې غواړې يو څوک زموږ خدماتو ته راجع کړې.
- که چيرې زموږ د ګرځنده بيړنيو ټيمونو ملاتړ غواړې.
- که چيرې ستاسې ماشوم د CACTIS پروګرام ته د داخلېدو په تمه وي.
- که چيرې ستاسې د کورنی غړی يا ملګری له رواني بحران سره مخ وي.
- که چيرې د ټولنې دننه د رواني يا چلندي روغتيا د نورو خدماتو په موندلو کې مرستې ته اړتيا لرې.
- که چيرې تاسې د قانون پلي کوونکی افسر يې او زموږ د کړکېچ خدماتو په اړه پوښتنې لرئ.
- که چيرې د روغتيا پاملرنې يو مسلکي يې او د ځان يا خپلو مراجعينو لپاره مرسته غواړئ.

CACTIS (د ماشومانو او تنکيو ځوانانو د اوږدمهاله ناروغيو د درملنې مداخلوي خدمتونه)
د Resolve Crisis Services (د کړکېچ د بيړنيو خدمتونو پروګرام) يوه څانګه ده، خو يوازې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره ده چې د درملنې په انتظار کې وي.
CACTIS د UPMC (يونايټډ هلتکير ميډيکل سينټر) سره په همکارۍ د بهرني چمتو کوونکي په توګه فعاليت کوي.

که ستا ماشوم د مداخلې يا بيړني خدمتونو ته اړتيا ولري، کولای شي له CACTIS سره اړيکه ونيسي.
تليفون:412-864-5065
بريښناليک:CACTISreferral@upmc.edu
فکس:412-864-5012

**د ټرانسجندر او د پراخ جنسيتي هويت لرونکو زده‌کوونکو ملاتړ**

په تعليمي حوزه کې د ټرانسجندر او د پراخ جنسيتي هويت لرونکو زده‌کوونکو د حقونو لپاره يوه د تبعيض نه کولو پاليسي شتون لري: د بورډ پاليسي ۳.۱۰۲ – بې تبعيضه – د ټرانسجندر او د پراخ جنسيتي هويت لرونکي زده‌کوونکي. دغه پاليسي د خدماتو او ملاتړونو څرنګوالی بيانوي چې زموږ د ټرانسجندر او د جنس پراخي زده‌کوونکو لپاره د مساوي لاسرسي تضمين وکړي. دې کې د محرميت ساتنې موضوعات، د تبرېدنې (Transition) ملاتړ، د ټرانسجندر/جنس پراخي زده‌کوونکو لپاره د ښوونځي د منابعو ټيمونو جوړول، او د جنس پراخي ژبې کارول شامل دي. که په ښوونځي کې سکول سلاکار شتون ونه لري، نو د ټولنيز کارکوونکي (Social Worker) د دې رول مسؤليت په غاړه اخلي.

**د ښوونځي د ټولنيز کارکوونکي رول**

د ښوونځي ټولنيز کارکوونکي د ښوونځي، زده‌کوونکو، کورنيو او ټولنې ترمنځ اړيکه برابروي ترڅو د زده‌کوونکو علمي بريا او هوساينې ملاتړ وکړي. د ټولنيزو کارکوونکو ځينې خدمات عبارت دي له:د کړکېچ مداخلې (Crisis Intervention)، د حاضري ملاتړ، د استوګنې ناپايداري ملاتړ، د زده‌کوونکو او کورنيو سره د منابعو په تړاو اړيکې جوړول، په ښوونځي کې مستقيم ملاتړ وړاندې کول (فردي، ګروپي، ټولنيز-احساسي زده‌کړې)، د ماشومانو د ناوړه چلند يا غفلت مشکوک قضيې پېژندل او راپور ورکول، د ځان وژنې، ځان ته زيان رسول يا بل ته زيان رسولو فکرونو معاينه، اړين ملاتړ برابرول، د ټولنې منابع برابرول او همغږي کول ترڅو د زده‌کوونکو اړتياوې پوره شي ټولنيز کارکوونکي هم د Student Assistance Program (SAP) روزل شوي غړي دي. که په ښوونځي کې ټولنيز کارکوونکی شتون ونه لري، نو سکول سلاکار د دې رول مسؤليت پر غاړه اخلي.

**د ښوونځي د سلاکار رول**

سلاکار د زده‌کوونکو سره مرسته کوي ترڅو هغوی خپل تعليمي، مسلکي او د ژوند اهداف او پلانونه جوړ کړي. دې رول کې د زده‌کوونکو او/يا د هغوی د کورنيو لپاره د اړتياوو په اړه روزنه، ارزونه، مداخلې، راجع کول او ملاتړ شامل دي. سلاکار همدارنګه يو ترتيبي علمي پروګرام جوړوي ترڅو دا اهداف او پلانونه ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې د زده‌کوونکو او کورنيو محرميت تر قانون او د ولسوالۍ پاليسۍ پورې په اعظمي کچه ساتل کېږي. که په ښوونځي کې سلاکار شتون ونه لري، نو ټولنيز کارکوونکی د دې رول مسؤليت پر غاړه اخلي.

**د ښوونځي د امنيت او خونديتوب د کارکوونکو رول**

PPS خپله د ښوونځي د خونديتوب څانګه لري، چې پکې د ښوونځي د امنيت مرستيالان (SSA) او د ښوونځي پوليس افسران (SPO) شامل دي. د دوی رول دا دی چې د زده‌کوونکو او ښوونکو د خونديتوب او هوساينې ملاتړ وکړي، په ښوونځي او د ښوونځي اړوندو فعاليتونو کې. د ښوونځي پوليس افسران وسلې نه لري. د ښوونځي د امنيت کارکوونکي د خپلو رولونو په اړه ځانګړې روزنه ترلاسه کوي، پکې د کړکېچ کمولو (De-escalation) او د Restorative Practices روزنه شامله ده. د ښوونځي د خونديتوب څانګه او د زده‌کوونکو د ملاتړ دفتر د روزنې پروګرامونه همغږي کوي ترڅو د ښوونځي د امنيت کارکوونکي د زده‌کوونکو د ملاتړ لپاره اړينه روزنه ترلاسه کړي.

ځينې پېښې د ښوونځي پوليسو ته د خبر ورکولو اړتيا لري. خو دا نه معنی لري چې د پوليسو خبر ورکول به حتمي جنايي تورونه رامنځته کړي، او ډېرې پېښې د پوليسو خبر ورکولو ته اړتيا نلري. د دې لپاره چې د پېښې په اړه د ښوونځي پوليسو سره مشوره وشي، اداره‌کوونکي بايد لاندې مهم فکتورونه په پام کې ونيسي: (۱) د پېښې جديت (۲) د ښوونځي وړتيا د پېښې د حل يا کمولو لپاره (۳) د زده‌کوونکي نيت (۴) د زده‌کوونکي عمر (۵) که زده‌کوونکی معلوليت ولري، د معلوليت ډول او د زده‌کوونکي پر چلند يې اغېز (۶) نور هر هغه فکتورونه چې اداره‌کوونکی يې اړين بولي د هغو زده‌کوونکو لپاره چې د IEP او 504 پلانونه لري او د مثبت چلند ملاتړ پلانونه يې شته، د ښوونځي پوليسو يا محلي قانون پلي کوونکو ته د خبر ورکولو وروسته د فعال چلند ارزونه او د مثبت چلند ملاتړ پلان تازه کول اړين دي. که د معلوليت لرونکي زده‌کوونکی مثبت چلند ملاتړ پلان ونه لري، او د Safe Schools Act د برخې (4.1)(1303-A(b يا (4.2) لاندې پېښه ترسره کړي، نو ښوونځی بايد د زده‌کوونکي IEP ټيم غونډه راوغواړي. په دې غونډه کې به د ټيم غړي بررسي وکړي چې آيا د زده‌کوونکي د چلند د اصلاح لپاره مثبت چلند ملاتړ پلان جوړول اړين دي که نه.

د هغو نقضونو کوډونه چې د ښوونځي پوليسو ته د حتمي خبر ورکولو سبب کېږي، د ستوري (*) نښه لري. نورې پېښې بايد د مناسبو اداري انضباطي اقداماتو له مخې حل شي.

د تعليمي حوزې او د پيټسبرګ پوليسو ترمنځ د پوليسو تفاهم ليک (Police Memorandum of Understanding) سره سم، که د معلوليت لرونکی زده‌کوونکی داسې پېښه ترسره کړي چې حتمي خبر ورکولو ته اړتيا لري، نو تعليمي حوزه بايد فوري خبر د محلي قانون پلي کوونکي اداري ته ورکړي، پرته له دې چې معلوليت يې څومره وي. دغه خبر بايد په کې ځرګند کړي چې زده‌کوونکی IEP يا د خدمت تړون لري چې د چلند ملاتړ پلان پکې شامل دی. خبر ورکول ممکن د ښوونځي سپارښتنه هم شامل کړي چې د قانون پلي کوونکي اداري مداخله اړينه نه ده، ښوونځی به د زده‌کوونکي چلند د اصلاح لپاره د فدرالي او ايالتي قوانينو مطابق اقدام وکړي، محلي قانون پلي کوونکي اداره سپارښتنه په پام کې نيولی شي، خو حق لري چې پلټنه وکړي او اړين تورونه ولګوي. د قانون کوډونه:§14.133: د مثبت چلند ملاتړ ( Positive Behavior Support) سره تړاو لري، < §15.3: د محافظت شوي معلول زده‌کوونکو لپاره – عمومي مقررات (– Protected Handicapped Students General)، §711.46: د مثبت چلند ملاتړ (Positive Behavior Support) سره تړاو لري محلي قانون پلي کوونکي اداره کولای شي سپارښتنه په پام کې ونيسي، خو دوی حق لري چې خپلواکه پلټنه وکړي او اړوند تورونه ولګوي.

**د ښوونځي پوليسو لخوا خلاصه شوې خبرتياوې (Summary Citations)**

د PPS ښوونځي پولیس افسر (SPO) لپاره د لنډیزي خبرتیاوو ورکولو باندې موقتي بندیز دی، تر هغه پورې چې د پالیسۍ کمیټي او د امنیت او عملیاتو کمیټي په همغږۍ د اداري لارښودونو او پالیسۍ جوړوني چارې بشپړې نه کړي او د ښوونځي د بورډ لخوا تصویب شي. دا موقتي بندیز به پرځای پاتي شي.

**حاضري / ګډون**

عمومي اړتیاوې:
